# د پښتو د نثر تاریخچه

> دا مقاله لنډیز د جنوري په ۱۰ نیټه
> د ختیځ پوهانو په ۲۶ بین المللي کانګرس کښې
> ویل شوې دی .

پښتو یوه ژوندۍ آریایي ژبه ده چه د نسبتي (و) په زیاتوالي د (پښت
پکــت) قبیلې ته منسوبېږي . ((پکت)) هغه ستره اریایي قبیله ده چه
درې نیم زره کاله پخوا د ریګویدا په سندرو کښې راغلې ده .

پښتو ژبه په شرقي اریایي ژبو کښې په میدې خیل پورې اړه لري
نو میالي ختیځ پوهان دګریرسون وایي چه میدې ژبې د ایران په شرقي
خواوو کښې ویلې کیدې . نو ځکه دی د پامیر او هندوکش ژبې لکه
: پراچي ، پشه یي ، اورمړي او پښتو په دغه ګروپ کښې شاملوي . دی په
خپله اصطلاح د غوږ بوته نن پارسیك ژبې وایي . او مونږ دغه نا
پارسي ژبې د باختري ژبو یا ((پښتیك)) په نامه یادوو . دا ژبې د پارسیك
او هندیك ژبو تر منځ سیمه کښې ویل کیږې چه په جغرافیایي لحاظ
د اکسوس او اندوس تر منځ غزیدلې پرته ده .

د شرقي اریایي ژبو په دغه کورنۍ کښې تر ټولو زیات مشهوره او
غښتلې ژبه پښتو ده چه اوس د شل ملیونه پښتون اولس ملي او رسمي ژبه ګڼل
کیږې .



له کینی خوا : پوهاند رشتین شپون   میرحسین شاه ، مادام رادار ، موسیو رادار ، پروفیسر مارگن ستر نه

www.esalat.org

دپروفیسر موریسن انګریز په وینا د پښتو ژبې زده کړه د هغه چا دپاره چه د اوستا او نورو زړو ليکو نو ترجمه کوي، ډیره ضروري ده.

که څه هم ځینې ختیځ پوهان پښتو ژبه په ایراني ګروپ او ځینې په هندي ګروپ کښې شامله بولي مګر دپښتو پوهانو نظريه ، څيړنه او پرېکړه داده چه پښتو په يوځانله ګروپ پورې اړه لري چه د ایراني او هندي ژبو تر منځ دپيوستون کړی بلل کيږي.

مونږ دلته دپښتو ژبې له زاړه تاريخ او لغوي څيړنې څخه تيريږو او يوازې دپښتو دليکلي ادبي تاريخ پريوه برخه يعني نثر باندې رڼا اچوو. ځکه چه دا برخه تر اوسه پورې پټه پاتې شوې ده او ډيره څيړنه پکښې نه ده شوې.

مونږ د پښتو ليکلي نثر پر درې لويو دورو ويشو:

۱ـ پخوانۍ دوره ۲ـ منځنۍ دوره ۳ـ اوسنۍ دوره.

دپخوانی نثر دوره له (۳۰۰هـ) څخه شروع کيږي او تر (۹۰۰هـ) پورې رارسيږي (۹۰۰ع ـ ۱۵۰۰ع) د دې دورې په لومړيو برخه کښې زمونږ لاسو ته يوازې د نثر ديو څو کتابو نومونه رارسيدلي دي او هغه دادي:

۱ـ دسالو وږمه: دموجوده معلوماتو له مخه دادپښتو نثر لومړی کتاب ی چه دابو محمد هاشم سرواني له خوا ليکل شوی دی ابو محمد هاشم په (۲۲۳هـ) د کندهار په (سروان) کښې زيږيدلی او په (۲۹۷هـ) کال په بست کښې وفات شوی دی. ده په عربي، پارسي او پښتو ژبو کښې شعرونه هم ويلي دي او يو ستر عالم سړی ؤ. دغه کتاب يې دعربي شعرونو دفصاحت او بلاغت په بيان کښې ليکلی او د پښتو ژبې د نثر لومړنی ليکلی اثر ګڼل کيږي.

۲ـ تاريخ سوري: دا کتاب بناغلي محمد بن علي بستي ليکلی دی

www.esalat.org

او دسور یانو دزمانې یو سیاسي او ادبي تاریخ دی. شیخ کټه نومې پښتون لیکوال وایي چه ما دمحمد بن علي بستي تاریخ سوري دغور په (والشتان) کښې لیدلی و. شیخ کټه په خپل کتاب (لرغونی پښتانه) کښې دامیر کروړ سوري، شیخ اسعد سوري، ښکارند وی حالات او اشعار له دغه کتابه را نقل کړی دی، چه بیا پټې خزانې له (لرغونی پښتانه) څخه اخیستي دي او په دغه ډول مونږ ته رارسیدلي دي.

ددې دورې په دوهمه برخه کښې تر ټولو مشهور کتاب (تذكرة الاولیاً) نومیږي. دا کتاب په (٦١٢ هـ) کال د کندهار په (ارغسان) کښې لیکلی شوی دی او مؤلف یې سلیمان ماکو سابزی دی. په دې کتاب کښې د پښتنو بزرگانو اولیا یانو حالات بیان شوي دي. دبیټ نیکه، شیخ اسمعیل، تایمنی، ملکیار غرشین او بختیار پښتو شعرونه هم ددغه قیمتي کتاب په واسطه زمونږ څو توله راغلي دي او دپښتو د ادبیاتو تاریخ ور پاندې ښایسته شوی دی. مګر له بده مرغه چه دغه کتاب هم ټول نه دی موندل شوی او یوازې یو څو پاڼې یې په (کندهار) کښې پیدا شوي دي.

د نثر نمونه:

نقل کاوه شي چه په روزګار دغازي شهاب الدین چه پر کفر یرغل و شیخ ملکیار چه د غرشین ستانه و، هم ملګری و د شهاب الدین چه په ډیلی کې هغه ستر واکمن ټاټوبي و رونښاند او هم هورې مړ شو.))

د تذكرة الاولیاً نثر یو تاریخي او دیني نثر دی. د پښتو پخوانی لغتونه پکښې ډیر دی. د پښتو اصلي رنګ پکښې زیات او د عربي د زیات اثر لاندې نه دی راغلی.

ددې دورې په دوهمه برخه کښې دځینې نورو کتابو نومونه هم مونږ ته معلوم دي مګر په خپله کتابونه لاس ته نه دي راغلي او هغه دا دي:

www.esalat.org

۱- لرغوني پښتانه: د پښتنو تاریخ یو غوره قیمتي اثر ؤ چه د شیخ کته له خوا د (۷۵۰هـ) په شاو خوا کښې لیکل شوی دی. دا کتاب د پټې خزانې د مؤلف محمد هوتک لاس ته ورغلی ؤ او هغه ورځني ډیر غوره معلومات را نقل کړي دي.

۲- د شیخ ملي دفتر: شیخ ملي د (۸۰۰هـ-۱۴۰۰ع) په شاوخوا کښې د پښتو یوستر مشر او غښتلی لیکوال ؤ. ده د یوسفزو د هجرت او د پښتنو تر منځ د ځمکو د ویش په باره کښې یو ډیر مهم کتاب لیکلی دی دغه ویش دا اولس په خوښه کیده او هر چا ته پکښې مساوي برخه رسیدله. د شیخ ملي د دفتر یوه نسخه د نو میالي ختیځ پوهاند مستر راورټي لاس ته ورغلې وه او ښایي چه د لندن په کومه کتابخانه کښې ساتل شوې وي.

۳- د کجو خان رانیزي تاریخ: کجو خان هم د یوسفزیو لوی مشر او یو لیکوال ؤ چه د پښتنو د تاریخي پېښو او حالاتو په باب یې په (۹۰۰هـ) یو کتاب لیکلی دی. دغه کتاب هم مستر راورټي لیدلی ؤ او د خپلې پښتو ګرامر په سریزه کښې یې یادونه کړېده.

منځنۍ دوره:

دا دوره له (۹۰۰هـ-۱۵۰۰ع) څخه شروع کیږي او تر ۱۳۰۰هـ-۱۹۰۰ع پورې را رسیږي. دا دوره هم دوې برخې ده اوله او دوهمه برخه یې د پښتو د نثر په تاریخ کښې ډیر اهمیت لري. د دې دورې د لومړۍ برخې کتابونه په وروسته ډول ښودل کیږي.

۱- خیر البیان: د پښتو یو مشهور دیني او مذهبي کتاب او د میا روښان پیر روښان یو غوره اثر دی. دا کتاب په څلورو ژبو عربي، پارسي، هندي او پښتو لیکل شوی دی. میا روښان په ۹۳۱هـ کال د

www.esalat.org

وزیرستان په کاڼي ګرام کښې زیږیدلی او بیا په ۹۸۰ھ کال کښې وفات شوی دی. دی سر بیره پر دې چه د پښتنو یو روحاني مشرؤ، د سیاسي فکر خاوند هم ؤاو په دغه اساس یې د مغلو له لویې امپراطورۍ سره د پښتني حکومت د جوړولو د پاره ډیرې کلکې جګړې کړې دي.

دخیر البیان یوه قلمي نسخه د آلمان په (رو ننتګن) نومي ښار کښې موجوده ده د دغې نسخې له مخه دوه کاپۍ د میکروفلم په ذریعه اخیستل شوې دي چه یوه د پېښور په پښتو اکیډیمۍ کښې خوندي ده او بله په کابل کښې له ښاغلي بینوا سره ده.

د نثر نمونه:

«مرګ به ور شي و سړي ته ناګهان

نشته په دنیا کښې د سړي تل تر تله مقام

ګور ره د د غې زمانې اد میان

غوا ړي د دنیا او هر چه پکښې دي

مشغول دي ډیر اد میان

ځیني په کرلو یا په بازار ګانې

یا په پوو ند ګلې یا په تور کښې باندې

ځیني په نور چار مشغولي کا ادمیان»

دخیر البیان نثر یو دیني او مذهبي نثر دی مګر د پخواني نثر ساده ګي او اسانتیا نه لري.

د جملو په جوړولو کښې یې د عربي اغیز زیات لیدل کیږي مګر د لغاتو د سوچه والي په برخه کښې یې د پخواني نثر خصوصیت ساتلی دی. په لفظي لحاظ دخیر البیان نثر په قافیه وال نثر کښې شاملیږي او دا په پښتو کښې د مقفی نثر لومړی مثال دی. مګر د غه راز نثر

يوازې ددينى موضوعا تو دپاره٘ر واج مو ندلى ۇ.

۳-مخزن الاسلام: دا کتاب هم يو دينى او مذهبى ا ثر د ى چه د اخون درو يزه له خو اليکل شوى او زيات شهرت يې مو ندلى دى.

اخون درويز ه يو د ينى ملا ۇ ا ود پيښو ر په سيمه کښې اوسيده. له ميارو ښان سره يې سخت مخالفت درلود او هغه يې د«پير تاريک» په نامه ياداوه. وايى چه په دې کار کښې د مغو لى حکومت لاس هم ننو تى ۇ.

د مخزن الاسلام قلمى نسخې ډيرې پيدا کيږى او تر تو له پښتو نخو ا ترې ډکه ده. دا کتاب په هند کښې چا پ شوى هم دى.

د مخزن په بيلو بيلو نسخو کښې داخون درويزه د(۱۳) تنو شا گر دا نو او اولادې د کلام نمو نې او ځينى نيمگړى شعرونه هم ليدل شوى دى.

د مخزن نثر هم دخير البيان په شان په قافيه وال نثر کښې شا مليږى. مگر ځينى جملې يې موزونې هم راځى او په دې وجه ور ته وزم وال نثر هم ويلاى شو. دمخزن په نثر کښې عر بى تور ى زيات او د پښتو زاړه لغتو نه پکښې لږ دى او په دې برخه کښې له خير البيان ځخه وروسته دى.

ددې سلسلې نو ر کتا بو نه دادى :

۱-فوايدالشريعت: يو دينى کتاب دى چه په(۱۱۲۵ھ) کال داخون قا سم له خوا ليکل شوى دى. ددې کتاب نثر هم په قافيه وا ل نثر کښې شا مليږى. دا کتاب خوځله چاپ شوى دى.

۲- خلا صة الاسلام : دا کتاب يو مذهبى کتاب دى چه فقير حسين په روانه پښتو ترجمه کړى دى اود تصوف گران مسايل پکښې بيان شوى دى.

حسين داخون درويزه همزمانه اوهمخياله ښکارى. ده د تصوف مقامونه ځلور ښودلى دى :

www.esalat.org

شریعت ، طریقت ، حقیقت ، معرفت . او په دې برخه کښې دمیاروښان له فکر سره نژدیوالی لري . دی دسماع په باره کښې هم دیوې آزادې نظریې خاوند دی . د خلاصة الاسلام د لیکلو ډول دمخزن په شان دی ددې کتاب یوه قلمي نسخه په کابل کښې موجوده ده .

۳- د بابوجان مجموعه - بابوجان دلغمان د نورستان اوسیدونکی ؤ . په کوم جنګ کښې دمسلمانانو په لاس ورغی ، مسلمان شو اوپس له هغه دپیښورسیمې ته ولاړ او پاتې ژوندیې هلته تیر کړ .

ده دپښتو په نیم منظوم نثر یوه دیني مجموعه لیکلې ده چه قلمي نسخې یې ډیرې پیدا کیږي د بابوجان ددعای سریانی منظومه ترجمه هم ډیر شهرت لري .

دمنځنۍ دورې په لومړۍ برخه کښې سربیره پردغو دیني کتابونو ځینې تاریخي کتابونه هم لیکل شوي دي خو زیات یې ورک شوي دي او یوازې تش نومونه یې پاتې دي لکه د کامران خان سدوزی (۱۰۳۸) کلید کامراني ، دحسین افغان (۱۰۳۲) تواریخ افغان ، د شیخ بستان بړیڅ بستان الاولیأ (۱) او نور .

دمنځنۍ دورې په دوهمه برخه کښې د پښتو نثر لمن ډیره پراخه شوې ده او زیات کتابونه پکښې لیکل شوي دي . سربیره پردې په دې برخه کښې د نثر په ټیک ډول کښې هم ډیر توپیر راغلی دی او دعادي او ساده نثر بڼه یې غوره کړې ده نودادې ددې دورې مهم کتابونه په وروسته ډول ښودل کیږي :

(۱) - شیخ بستان په (۱۰۰۲ هـ) کال دهند په احمد اباد کښې وفات او هم هورې خښ شوی دی .

www.esalat.org

۱ ـ دستار نامه :

دا کتاب د پښتو د نومیالی شاعر خوشحال خټک یو منثور اثر دی دستار نامه سربیره پردې چه د پښتو نثر یو غوره کتاب دی د معنی او مفهوم له مخې هم یو قیمتی اثر ګڼلی کیږی . په دې کتاب کښې سیاست تدبیر ، اخلاق ، پوهه او پښتو ټولی دا ټول یو ځای شوی او د پښتو په ښایسته جامه کښې څرګند شوی دی . په دې کتاب کښې ټول شل هنرونه او شل خصلتونه بیان شوی دی چه د دغه ټول د قومی او اولسی مشری او باداری د پاره ضرور دی . د دستار نامې غایه اولسی او اجتماعی ده او ډیری نوی مفکورې پکښې په منظم ډول څرګندې شوی دی د دستار نامې قلمی نسخه په پیښور کښې شته او دا څو کاله کیږی چه دغلته چاپ شوی هم ده .

۲ ـ بیاض :

دا د خوشحال د نثر یو خوندور کتاب دی چه د خپلې کورنۍ او قومی جنګونو حالات یې پکښې بیان کړی دی او یو غوره تاریخی سند دی . افضل خان په تاریخ مرصع کښې د دې کتاب یو څه نمونې راوړی دی .

۳ ـ پښتو هدایه :

وایی چه خوشحال ( هدایه ) هم په پښتو ترجمه کړې ده مګر تراوسه پوری یې کومه نسخه نه ده پیدا شوی .

د نثر نمونه : اتلسم هنر د علم موسیقی دی ، یعنی سرود ، ساز نغمه . دا علم عمیق علم دی لکه د شعر هسې بحور عروض لری . شپږ یې بحره دی د هر بحر شپږ شپږ نغمې دی . اختراع د افلاتون دی نظم هم اختراع د افلاتون دی . په مقابل یې یو د بله اختراع کړی دی اما

www.esalat.org

هر چند لوی علم دی بیا ترجیح پرې د نظم دی »(له دستار نامې څخه)

-۲-

« په دامنځ کښې خبر راغی چه شجاعت ډېر لښکر سره په ګند اب کښې ډوب شو جسونت سنګه و تښتید ایمل خان لویه فتح وکړه ډېر پښتون په دا کار خوښ شو . شیر محمد خوار حیران شو هیڅ یې نه زده وو چه څه وکړم شجاعت خان دده وسیله وو رك شوی د مغل ؤ د مغل زور کم شو .»

٭ ٭ ٭

دخوشحال په نثر ونو کښې د موضوع له مخه دستار نامه اودروانې او خوږ والی له مخه د بیاض نثر غوره او سپیڅلی ښکاری . د دستار نامې په نثر کښې د عربی کلمې ډېرې دی مګر د بیاض په نثر کښې پردی کلمې لږ ې دی اوبله دا ده چه د بیاض نثر محاورې او خبر واتر وته نژدې دی .

خوشحال خان د پښتو نثر د میار و ښان له نیم منظوم سبك څخه را ویستلی اویو نوی رنګ یې ور کړی دی چه په دې وجه د منځنی دورې د نوی سبك لار ښوونکی بلل کیږی . دده نثر په عادی اوروان نثر کښې دخپل و خت یو ښه نثر باله شی اود خټکو د ټولی کور نۍ نثر دده په لاره روان دی .

۴ - ګلدسته : د شیخ سعدی د ګلستا ن پښتو ترجمه ده چه په (۱۱۲۴ ه) کال کښې د عبدالقادر خټك له خوا شوې ده .

عبدالقادر دخوشحال خټك زوی او د پښتو یو پوخ شاعر او تکړه لیکوال دی . حدیقه خټك او یوسف زلیخا دده مشهور منظوم اثرونه دی خو په نثر کښې دغه یو اثر لری . ګلدسته که څه هم له پار سی نه ترجمه شوې ده خو پښتو یې روانه ، جملې یې لنډې او مطلب یې

www.esalat.org

څرګندې دی . له دې کبله ورته یو کامیابه ترجمه ویلای شو. دګلدستې یوه قلمی نسخه د پیښور په پښتو اکیډمۍ کښې شته .

۵ ـ قلب السیر : دا کتاب دخوشحال خټک بل زوی ګوهر خان له پارسی نه په پښتو ترجمه کړی دی . دا کتاب دحضرت محمد (ص) سیر تو نو ، حالاتو اوغزا ګانو هیښداره ده . ټول کتاب دیرش با به او نژدې (۸۰۰) مخه دی . ددې کتاب یوه قلمی نسخه د پیښور په موزیم کښې شته ده مګر تر اوسه دچاپ ډګرته نه ده راوتلی .

۶ ـ تاریخ مرصع : دا کتاب دخوشحال خټک دلمسی افضل خان یو مشهور تاریخی اثر دی په دې کتاب کښې د پښتنو عمومی تاریخ او دخلکو حالات بیان شوی دی.

دا کتاب تر اوسه نه دی چاپ شوی یوازې مسټر راورټی او پادری هیوز یې یو څو بابه په (ګلشن روه او کلید افغانی) کښې چاپ کړی دی

۷ ـ علمخانهٔ دانش ـ دا کتاب دافضل خان خټک یو بل منثور اثر دی چه د پارسی له کلیله و دمنې څخه په پښتو ترجمه شوی دی .

کلیله او دمنه په اصل کښې د (پنج تنترا) په نامه د هند د حکیمانو له خوا لیکل شوې ده .

بیا په پهلوی ، عربی او پارسی ژبو ترجمه شوې ده . او پښتو ترجمه یې دافضل خان په کلکه اراده په (۱۱۲۸ هـ) کال منځ ته را وتلې ده . او یو ډیر مناسب نوم یې ورباندی ایښی دی یعنی دپوهې کور. دا کتاب په رشتیا دپوهې او علم کور او دپند او مکتب له خبرو ډک دی . دا کتاب تر اوسه چاپ شوی نه دی یوه قلمی نسخه یې دپېښور په موزیم کښې شته.

د نثر نمونه : « وپوهیږه چه کتاب د کلیله او د منه جمعه کړی

دهندوستان ددانشورانودی. همیشه به دانایان اوعالمانو د یونان،
دفارسی په دافکروچی یو کتاب دملو کانو دپاره دستورالعمل ساز
کړو. امادا له چاونه شو مګر دهندوستان په حکیمانو ساز شو .
لویې لو یې خبرې د بې ز بانو جمع کړی فا یدی یکښې ملاحظه
کړی» .

دافضل خان نثر دمعنی اولفظ د واړوله مخه زیات اهمیت لری .
دانثرهم په عادی اوساده نثر کښې شاملیږی اود خوشحال خان دسبك
تابع باله شی . افضل خان په شعر کښې لاس نه لری مګر د نثر دمیدان
یو تکړه پهلوان دی .

۸- تاریخ اعثم کوفی: داکتاب په اول کښې خواجه احمدبن اعثم
کوفی په عربی ژبه لیکلی دی . بیا محمد بن احمد مستو فـی په
(۵۹۶ هـ) کال په پارسی اړولی دی اوپس له هغه محمد مظفر نومی
لیکوال په (۱۱۲۶ هـ کال) په پښتو ژبه ترجمه کړ. محمد مظـفـر د
پیښور دکوهاټ اوسیدونکی ؤ اود غه کتاب یې دافضل خان خټك په
سپارښتنه پښتو کړی دی . داکتاب هم تراوسه چاپ شوی نـه دی
مګر قلمی نسخه یې په پیښور کښې شته ده. ددې کتاب نثر د افضـل
خان له نثر سره ډیر نزدیوالی لری .

۹- اختیا رات بدیعی: داکتاب مولانا عبدالحلیم د ا فضل خان
خټك په وینا په په(۱۱۳۰هـ) په پښتو ترجمه کړی دی اویو طبـی کتاب
دی . ټول کتاب (۸۰۴) مخه دی ، پښتویې آسانه اورو انه ده اودزیاتو
دواګانو نو مو نه یې په پښتو اړولی دی . د دې کتاب قلمی نسخه
درامپور په رضاکتابخانه کښې شته .

۱۰- د ادم اودرخانۍ کیسه: آدم او درخانۍ په یوسف زو کښې

www.esalat.org

دوه مشهور مینان تیر شوی دی. ددوی دعشق او مینې کیسه په ټوله پښتو نخوا کښې دومره شهرت لری لکه په عربو کښې لیلی او مجنون. دا کیسه په پښتو نظم کښې ډیره لیکل شوې ده مگر په پښتو نثر کښې مونږ ته دغه یو اثر معلوم دی چه لیکونکی یې (مسعود) نومیږی. دا کیسه یو ځل په پیښور کښې چاپ شوې هم ده او یوه قلمي نسخه یې په کابل کښې موجوده ده.

۱۱ـ دمحمدرسول بیاض: دا کتاب محمد رسول هوتك لیکلی دی اویو ادبی او تاریخی اثر دی. د پټې خزانې مؤلف محمد هوتك دغه کتاب لیدلی ؤ اود سلطان بهلول لودی او خلیل نیازی شعرونه یې ورڅخه رانقل کړی دی.

۱۲ـ نافع المسلمین: یو دیني او مذهبي کتاب دی. لیکونکی یې نورمحمد نومیږی چه د شاه حسین هوتك دپاچاهی په وخت په کندهار کښې اوسیده. دا کتاب که څه هم ددولسمې هجری پیړۍ په لومړی برخه کښې لیکل شوی دی مگر د لیکلو سبك یې داخون درویزه دمخزن په شان دی اونیم منظوم سبك ور ته ویل کیږی.

۱۳ـ پټه خزانه: دمنځنی دورې ددوهمې برخې یو مشهور او غوره اثر پټه خزانه ده دا کتاب هم دشاه حسین په زمانه کښې دمحمد هوتك له خوا په کندهار کښې لیکلی شوی دی محمد هوتك دخپل وخت یو غښتلی لیکوال اویوه مؤرخ دی. په دې خزانه کښې یې د ډیرو لرغونو شاعرانو حالات او شعرونه راټول کړی دی او د پښتو ادب ډیرې قیمتي ملغلرې یې پکښې ساتلی دی.

ددې کتاب په برکت دپښتو دادب تاریخ ددوهمې هجری او اتمې عیسوی پیړۍ اول سر ته ورسید اودامیر کروړ سوری داجنگی سندره

(زه یم زمری پردې دنیاله ماتل نسته) دپښتو دلومړنی شعر په نامه دپښتو ادبیاتو په تاریخ کښې ولیکل شوه. پټه خزانه شل کاله پخوا په کابل کښې دښاغلی حبیبی په سمونه اوکتنه چاپ شوه. داکتاب دهغې نسخې له مخه چاپ شوی دی چه په (۱۳۰۳ هـ) کال کښې د محمد عباس کاسی په قلم لیکل شوې وه. اودا نسخه له هغې نسخې څخه نقل شوې ده چه په (۱۲۶۵ هـ) کال د نور محمد خروټي په قلم دسردار مهر دل خان د پاره په کندهار کښې لیکل شوې ده. او ښایی چه دانسخه به له اصلی نسخې څخه نقل شوی وی.

د نثر نمونه: «هسی وایی محمدکاتب ددې کتاب چه یوه ورځ دپادشاه ظل الله په قصر کښې مجلس ؤ اوفضلا اوعلما سره راټول. ناګاه احوال وسوچه قاصد راغلی دی او پیغام یې له لیرې ځایه راوړی ملازعفران دباندې ولاړ. یوګړی پس بیرته مجلس ته راغی اوزیری دفتح دشال اوړوب یې وکا»

دپټې خزانې نثر یوساده او روان نثر دی ګرانې جملې او ناآشنا لغتونه نه لری اود دولسمې پیړی په نثرونو کښې ترټولو خوږ اوښه نثر دی. په دې نثر کښې دپخوانی نثر ځینی ښبانې شته دی لکه د (کا، وکا) د کلمو استعمال. په عمومی لحاظ دپټې خزانې نثر دخوشحال خان دنثری سبك تابع ښکاری.

۱۴ـ احمدشاهی فتاوی: دا یو دینی او مذهبی کتاب دی چه دلوی احمدشاه بابا په وینا د میرعبدالله له خوا لیکل شوی دی. میرعبدالله په پیښور کښې دقضاپه منصب مقرر ؤ او په دغه وجه دده کورنی په قاضیانو مشهوره ده دده په نمسو کښې قاضی میراحمدشاه رضوانی ډیر شهرت درلود اود «شمس العلمأ» لقب ورکړ شوی ؤ.

www.esalat.org

احمد شاهي فتاوی په پښتو ژبه کښې يوه ستره علمي پانګه ده
چه داحمد شاهي سلطنت دمحکمو يوشرعي قانون ورته ويلای شو.
ددې فتاوی يوه قلمي نسخه چه (٦٨٨) مخه ده په (۱۱۹۹ھ) کال کښې
ليکل شوې اوپه پېښور کښې موجوده ده.

۱۵ـ معرفة الافغاني: داکتاب دپښتو ژبې لومړی درسي کتاب دی
چه د پيرمحمد کاکړ له خوا په کندهار کښې دشاهـزاده سليمـان
دپاره ليکل شوی دی.

په دې کتاب کښې اسانې وړې وړې جملې راغلې دی اوځـينـې
ګرامری قاعدې هم پکښې ښودل شوی دی ددې کتاب نثرپه ساده او
روان نثر کښې يوښه نثر ګڼل کيږی.

ددې کتاب ځينې قلمي نمونې پيداشوی دی مګرچاپ شوی نه دی.

۱٦ـ تواريخ رحمت خاني: دمیامعظم شاه له خوادهندپه روهيلکنډ
کښې په (۱۱۸۱ ھ) کال کښې ليکل شوی دی. د پښتنو اولسو نو په
تيره ديوسف زويو مهم تاريخ دی. يوه قلمي نسخه يې دلنـدن پـه
موزيم کښې شته ده.

۱۷ـ پښتو ګلستان. داکتاب امير محمد انصاری دهند په کلکته
کښې دشيخ سعدی له ګلستان څخه په پښتو ترجمه کړی دی. مستېر
راورټي وايـي چه دا اثر ډير نایاب دی. ښايي چه کومـه نسخـه
يې په برتش موزيم کښې موجوده وی.

۱۸ـ تذکرة الملوک: داکتاب مونږ دمستر راورټي له يادونې څخه
پيژنو په دې کتاب کښې دسدوزو دکورنۍ اوپاچاهۍ حالات بيان شوی
دی اويو مهم تاريخ دی خو کومه نسخه يې په پښتو نخوا کښې نه ده
ليدل شوی.

www.esalat.org

۱۹- ریاض المحبة: د پښتو یو لغوی کتاب دی چه د هند په روهیلکنډ کښې د حافظ رحمت خان زوی نواب محبت خان لیکلی دی . دا کتاب د پښتو یو ډېر ښه فرهنګ دی .

۲۰- عجایب اللغات: دا کتاب د پښتو ژبې یو ښه قاموس دی چه په څلورو ژبو پښتو ، هندی ، پارسی او عربی لیکل شوی دی . او د حافظ رحمت خان بل زوی الله یار خان لیکلی دی . ددې کتاب یوه نسخه د لندن په بریټش موزیم کښې شته دی(۱) .

۲۱- فرهنګ اپریدی : دا کتاب د پنځو ژبو یو شریک لغت او یو بې جوړې کتاب دی چه قاسم علی اپریدی د هند په (فرخ ابا د) کښې لیکلی دی ، دغه پنځه ژبې دادی : پښتو ، هندی ، پارسی ، کشمیری ، انګریزی . ددې کتاب یوه قلمی نسخه د پیښور د اسلامیه کالج په کتابخانه کښې شته .

۲۲- د پښتو تفسیر : د هند د رامپور په کتابخانه کښې د پښتو یو تفسیر هم شته چه لیکونکی یې افضل خان افغان نومیږی .

۲۳- د ایسپ حکیم کیسې : دا کیسې مسټر راورټی په پښتو ترجمه کړې دی او په (۱۸۷۱ ع) په لندن کښې چاپ شوی دی . دغه کیسې د تاریخ او دغسې نورو کتابو په ډول لیکل شوی دی او یو پخوانی رنګ پکښې څرګندیږی .

۲۴- سراج المو تی : دا کتاب شمس الدین کاکړ لیکلی دی . یو دینی او مذهبی اثر دی او په پښتو نثر په نیم منظوم سبک لیکل شوی دی . دی د خلاصة المریدین په نامه یو تصوفی اثر هم لری

(۱) د ریاض المحبت او عجائب اللغات قلمی نسخې د رامپور به رضا لایبریری کښې خوندی دی .

۳۵ ـ تفسیر بدرمنیر: دا کتاب دوست محمد خټک د مولانا واعظ کاشفی له تفسیر حسینی څخه په پښتو اړولی دی . ددې کتاب نثر که څه هم اسان اوروان دی مګر د عربی ژبی اثرپکښې لیدل کیږی او کله کله فعل له مفعول څخه د مخه راوړی لکه (وایه معنی ددې آیة) ددوست محمد نیکونه له خټکو څخه کندهار ته تللی وو او دی په خپله هورې اوسیده .

۳۶ ـ تفسیر یسیر: دا تفسیر په (۱۲۸۳هـ) کښې د ننګرهار د کامې اوسیدونکی مراد علی صاحبزاده لیکلی دی دا تفسیر په پښتو کښې زیات شهرت لری او ښځې یې په کوروکښې لولی .

مراد علی صاحبزاده د موعظو او خطبو په باره کښې یوه پښتو رسا له هم لیکلې ده . د تفسیر یسیر او تفسیر بدرمنیر د لیکلو سبک سره یو شان دی . تفسیر یسیر څو ځله په هند کښې چاپ شوی دی.

۳۷ ـ ګنج پښتو : دا کتاب مولوی احمد لیکلی دی او په پښتو کښې د کیسو لومړنی لیکلی اثر دی مولوی احمد د پیښور د (تنګی) نومی کلی اوسیدونکی ؤ دی یو ښه عالم او پوه لیکوال ؤ او په اخر کښې د انګریزانو د پښتو استاذ شو . ده له تاریخ فرشتې څخه د سلطان محمود غزنوی تاریخ هم په پښتو ترجمه کړی دی دده دغه دواړه کتابونه چاپ شوی دی .

د نثر نمونه : «د بخیل سړی هم مال زیانیږی او هم یې غم زیاتیږی یعنی دوه تاوانه ورته پیښیږی .»

په دې نثر کښې د سمون او ښه والی نښې پیدا شوی دی او د پښتو محاورې او خبرواترو رنګ پکښې ځان ښکاره کوی . یعنی دا نثر د منځنی دورې داخری برخې یو کامل اوغوره نثر بلل کیږی.

www.esalat.org

اوسنۍ دوره :

د پښتو د نثر اوسنۍ دوره له (۱۳۰۰ هـ - ۱۸۸۰ ع) څخه شروع کېږي او تر اوسه پورې چلېږي . په دې دوره کښې د پښتو نثر زيات تحول کړی دی او د نثر په لفظي او معنوی خواؤ کښې يو ښکاره بدلون راغلی دی . دا دوره هم دوې برخې لري او په ورو سته ډول ښودل کيږی :

لومړی برخه :

۱ - د افغانستان تاريخ : دا کتاب منشي احمدجان د ميلسون نومی انګريز له تاريخ نه ترجمه کړی دی . په دی کتاب کښې د ترجمې رنګ ډير لږ دی او د روانی پښتو رنګ پکښې زيات دی .

۲ - د قصه خوانی ګپ : دا کتاب هم د منشي احمد جان اثر دی .

۳ - هغه دغه : په دی نامه هم منشي احمد جان يو کتاب لری . دا دريواړه کتابونه چاپ شوی دی .

د نثر نمونه : «آدم خان د آشنا کټ ته ورسيد ، درخو تار تار په تار په پالنګ اوده پرته وه . څنګز نې سپو ږمۍ او يو نيم ستوری پې په غلا غلا ديدن کولو .»

د منشي احمد جان په نثر کښې يو خوږ ادبي کيف او خوند پيدا شوی دی او د پښتو خوږی محاورې او متلونه پکښې راغونټي دی . په دی وجه دی د اوسنۍ دورې د نثر لار ښودونکی بلل کيږی .

۴ - شکرستان افغانی : دا کتاب قاضي مير احمد شاه رضوانی د ښوونځيو د پاره جوړ کړی او يو درسی کتاب دی . ده په دوو ژبو د پښتو يو ګرامر هم ليکلی دی چه (وافيه) نوميږی دغه شان نور هم ډير کتابونه لری .

www.esalat.org

دی هم د منشي احمد په شان خوږ او روان نثر لیکی او دواړه د یوی لاری ملګری دی .

۵ ـ مدوجزر اسلام : دا کتاب د مولانا حالی له کتاب څخه په پښتو ترجمه شوی دی او مترجم یې مولانا غلام محمد پوپلزی نومیږی .

٦ ـ نقش نګین : دا کتاب میاحبیب ګل له اردو نه په داسې ډول ترجمه کړی دی چه د ترجمې رنګ پکښې نشته .

۷ ـ دابن بتو ته سفرنامه : دا کتاب میانعمان الدین په پښتو ترجمه کړی او یو لوی ادبی خدمت یې سرته رسولی دی . بل کتاب یې (     ) نومیږی .

۸ ـ تاریخ برامکه : دا کتاب ښاغلی مشیرالدین پښتو کړی دی او یو ستر خدمت یې سرته رسولی دی . د ی د مشیرالاخلاق په نامه یو بل اثر هم لری .

۹ ـ عنوان النصایح : دا کتاب میا عنوان الدین د پارسی له اخلاق محسنی څخه ترجمه کړی دی د دې کتاب ترجمه هم ښه ده او د پښتو یو ښه اثر ګڼل کیږی .

۱۰ توبة النصوح : دا کتاب میا محمد یوسف د نذیر احمد له اردو ناول څخه ترجمه کړی دی او د پښتو نثر یوه غوره نمونه بلل کیږی .

۱۱ ـ د اخوان الصفا ترجمه : دا مهم تاریخی او علمی اثر ښاغلی امیر علیخان په پښتو اړولی دی مګر چاپ شوی لا نه دی .

۱۲ ـ نصیحت نامه : دا کتاب ملا غلام جان لغمانی له پارسی نه په پښتو ترجمه کړی دی مګر ترجمه یې دومره روانه نه ده .

۱۳ ـ ګلشن افغانی : دا کتاب سید محمد عمر لیکلی او د پښتو شاعرانو یوه وړه غوندې تاریخچه ده .

www.esalat.org

۱۴ـ زخمیانو ته هدایتو نه :یو طبی اثر دی‌چه پیرمحمدله‌انګریزی‌ه
څخه پښتو کړی دی .

۱۵ـ خیر اللغات :دپښتو ژ بی یو قا موس دی‌چه قاضی‌خیرالله
لیکلی دی .

۱٦ـ یوازینی پښتو :دایو درسی کتاب دی چه‌د کابل‌دپښتومرکې
له خوا الیکل شوی‌دی .

پښتو یې سو چه او سپیڅلی ده خو څه قدر سختی اوګرانی‌پکښی
موجودده .

۱۷ـ جما ل‌الدین افغا نی: دا کتاب مولوی عبدالمجید ا تما نخیل
لیکلی دی . نثر یې‌خوږ او په زړه پوری‌دی.دی‌د (رهبر اخلاق) په‌نا مه
یوه د رسی سلسله هم لری .

۱۸ـ پښتو سیند:دمحمد ګل مومندیو مشهور اثر دی .دی دپښتو
لیار او لنډ کې پښتو په نامه دوه‌نو ر اثر ونه هم‌لری‌چه‌دریواړه
چاپ‌شوی‌دی.

۱۹ـزما رسول پاك :دبناغلی عبد الها دی داوی یوه‌وړه ترجمه
ده چه له اردو څخه ترجمه شوی‌ده .

۲۰ـ دکیمیا ی سعادت پښتو ترجمه : داکتا ب دعبد ا لصمد خان
اڅکزی د بند یخا نی دزما نی یو ادبی یادګار دی . د غه شا ن ده
دمولا نا ابو الکلام آزادترجما ن القرآن ترجمه هم کړی ده.
دغه کتا بو نه تر اوسه نه‌دی چاپ شوی .

۲۱ـ دپښتو لومړی کتا ب :دمولوی صالح محمد کندهاری‌تألیف
او دپښتو دزده کړی دپاره یو د رسی کتاب دی .ده‌د پښتو ژ بې په
نامه هم یو درسی کتا ب لیکلی دی .

www.esalat.org

۲۲ـ لغات افغانی: په ار دو ژبه دپښتو لغتونو یوقاموس دی او سید راحت زاخیلی لیکلی دی راحت دپښتوژبی یو ښه شاعر او خوږ نثر نګار دی. دی د(شهید لی پښه) په نامه یو ناول هم لری چه په ۱۹۰۸ع کال کښې لیکل شوی او دپښتو لومړنی ناول ګڼل کیږی.

۲۳ـ دپښتنو تاریخ: په څلور ټوکه کښې دقاضی عطاءالله یو مهم اثر او غوره تاریخ دی.

۲۴ـ مکتوبات افغانی: دپښتو لیکونو یو ښه لار ښوونکی او د قاضی رحیم الله اثر دی.

دوهمه برخه:

داو سنۍ دورې دوهمه برخه چه له ۱۳۵۰ هـ څخه وروسته شروع کیږی دپښتو دنثر دپراختیا له مخه ډیر زیات اهمیت لری. ځکه چه په دې موده کښې ډیر لیکوال د لیکوالۍ ډګر ته راوتلی دی او زیات کتابونه یې لیکلی دی. چه دټولو بیانول زیات وخت غواړی. نو دلته مونږ یوازې د دې برخې ځینې مهم کتابونه چه دژبې د ژوندانه په برخه کښې لوی اغیز لری راوپېژنو.

۱ـ پښتانه شعراء: په درې ټوکه کښې دکابل دپښتو ټولنې له خوا خپور شوی دی.

۲ـ دپښتو ادبیاتو تاریخ: داکتاب دعبدالحی حبیبی یو غوره اثر دی چه په دوه ټوکه کښې خپور شوی دی.

۳ـ درحمان بابا تصوف: ددوست محمد کامل یوه پخه علمی څیړنه ده.

۴ـ پښتو نولی: دقیام الدین خادم یو خوږ او منلی اثر دی.

۵ـ ژوند: دامیر حمزه شنواری یو فلسفی او اجتماعی کتاب دی.

۶ـ پښتو سندری: په نثر کښې دګل پاچا الفت یو سپیڅلی ادبی اثر دی.

www.esalat.org

۷ـ پښتونستان: دعبدالرؤف بینوا یومشهور اثردی.

۸ـ کچکول: داجمل خټک دنثرونو یوه ښه مجموعه ده .

۹ دپښتو ادب تاریخ: درشتین یو سودمن اثردی .

۱۰ ـ ځولی ګلونه : ـ دماسټر عبدالکریم دخوږو افسانو یو ښه یادګار دی .

۱۱ ـ دآزادی جنګ: ـ دعبدالخالق خلیق یوتاریخی اوسیاسی کتاب دی .

۱۲ ـ پښتنې: دسمندرخان سمندردافسانو یوه ښکلی مجموعه ده

۱۳ـ لس زره لغات : دمحمد اعظم ایازی اودده د ملګرو دکړاو نتیجه ده .

۱۴ ظفر اللغات : دبهادر شاه کاکا خیل یوعلمی اثردی .

۱۵ ـ دسوات د ریاست تاریخ : د عبدالغفور قاسمی یو تاریخی اثر دی .

۱٦ ـ افغان قاموس : په درې ټوکه کښې دعبدالله خان افغانی نویس مشهور کتاب دی .

۱۷ ـ کاروان روان دی : دعبدالاکبر اکبر یوه خوږه ډرامه ده .

۱۸ ـ دسیرة النبی دریم او څلورم ټوک: له اردونه د عزیزالرحمن سیفی خوږه اوروانه ترجمه ده .

۱۹ ـ ننګیالی پښتانه : دمحمدخانمیر هلالی یوخوږ کتاب دی .

۲۰ ـ پښتو ادب : دعبدالحلیم اثر یوښه اثر دی .

۲۱ ـ لوی پښتانه : د عبد الشکور رشاد یو تاریخی غوره تالیف دی .

۲۲ ـ ژب ویشنه : دحسین بخش کوثر یو نوی اثر دی .

www.esalat.org

۲۳ ـ پیغله : د صاحبزاده محمد ادریس یو خوږ ناول دی .

۲۴ ـ دامب سفر : د نصر الله نصر یوه خوږه سفر نامه ده .

۲۵ ـ دقرآن لار : له عربی نه د محمد شاه ارشاد یوه ښه ترجمه ده .

۲۶ ـ ملی هینداره : د محمد گل نوری د ملی افسانو یوه ښه مجموعه ده .

۲۷ ـ پت : د مهدی شاه مهدی د لیکلو افسانو یوه ښه نمونه ده .

۲۸ ـ بی بی نوره : د روغ لیونی یو نوی خوږ اثر دی .

۲۹ ـ روح الادب : د تسنیم الحق کاکاخیل یو علمی کتاب دی .

۳۰ ـ پښتانه لیکوال : د همیش گل همیش یوه ادبی تذکره ده .

په دې سلسله کښې نور هم ډېر داسې ډېر کتابونه لیکل شوی دی چه د پښتو ټولنې په یو چاپ شوی فهرست کښې ښودل شوی دی او شمیر یې (۴۰۰) کتابو ته رسیږی .

## د پښتو د نثر دوروته یوه لنډه کتنه

مونږ دلته غواړو چه د پښتو د نثر درې واړو دوروته یوه لنډه کتنه وکړو او د دې دورې د نثر ښه لره نوره هم روښانه کړو .

د پښتو د نثر اوسنی شکل هم تر یوې اندازې پخوانی بریښی ځکه چه د پښتو د موجوده نثر او د سلیمان ماکو د نثر تر منځ کوم زیات توپیر نه لیدل کیږی .

که څه هم په پخوانی دوره کښې د پښتو د نثر خوا کمزورې ده او زیات کتابونه پکښې نه دی لیکل شوی یا نه دی موندل شوی خو بیا هم د دغې دورې نثر د هغه وخت د نظم په شان آسان ، ساده روان او پښتو په سو چه لغتونو ښایسته دی او د عربی او پارسی اثر پکښې ډیر نه ښکاری .

www.esalat.org

په دې دوره کښې د پښتو کتابونو نه هم سوچه پښتو دی لکه د سالوو پړمه، ارغونی پښتانه او نور ـ د معنی له مخه د پخـوانۍ دورې د نثر موضوع تاریخی او مذهبی ده ۰

هر اولس او هر ملت له خپل تاریخ او خپل مذهب سره زیاته مینه لری او دغه مینه خامخا د دوی په کتابونو کښې تر هر څه لومړی ځان ښکاره کوی ۰

کله چه د اسلام مبارك دین د پښتنو خاورې ته راورسید نو دوی په روڼ تندی ومانه او په خپلو آثارو کښې یې ورته یو ښکاره ځای ورکړ ۰ د دې دورې د نثر ښکارندوی یوازې د تذکرة الاولیأ نثر دی ځکه چه نور نثرونه څوتو ته نه دی راغلی ۰

په منځنۍ دوره کښې د پښتو د نثر لمن د کتابونو او موضوعاتو له مخه څه نا څه پراخه شوې ده ۰ مګر لومړی برخه یې د معنی له حیثه په مذهبی چوکاټ کښې بنده پاتی شوې ده۰ په دې برخه کښې د میاروښان خیر البیان، داخون درویزه مخزن الاسلام او داخون قاسم فواید الشریعت ډیر شهرت لری او دغه دریواړه کتابونه په مذهبی او دینی رنګ کښې لیکل شوی دی۰ د دې برخې په نثر کښې یو څه تصوفی فکرونه هم پیدا شوی دی ۰

د دې خبرې سبب یو د اسلامی جذبې قوت او بل د امیرانو، حاکمانو، دزورظلم ډیر بنت دی ۰ کله چه په یوه زمانه کښې زور، ظلم زیات شی نو خلك د تصوف او ګوښه ګیری خواته مخه کړی او خپله هوسایی په ځان ځانۍ کښې لټوی ۰

د دې برخې په نثر کښې د سبك او لیك ډول له مخه ډیر بدلون پیښ شوی دی۰ پخوانی نثر یو بې قیده آزاد نثر بلل کیده او د دې

www.esalat.org

برخي نثر د قافيې او سجع په لومه کښې ونښت چه د قافيه وال نثر په نامه يادېږي. ددې تحول يو لوی دليل دادی چه دغه قافيه وال سبك د وعظونو او ديني تبليغونو د پاره ډير اغيز ناك ؤ. او اعظان هميشه د وعظ په وخت کښې له آهنگ او ترنم څخه کار اخلي او داکار د قافيه والو جملو په راوړلو په ښه شان سره کيږي.

ددې برخي په نثر کښې د عربي لغاتو او عربي ترکيبونو زيات اغيز ليدل کيږي.

ددې دوری په نثر کښې د افعالو په پای کښې د ترنم (نه) او وصليه (و) زيات راوړل کيږی لکه لرينه، راشينه، وده وته، او نور.

د مخففاتو او زړو لغاتو استعمال هم ددې برخي د نثر يو لوی خاصيت دی لکه (وبله) محبله، خپسر، مزدك، تور کښې او نور. د مزدك کلمه د امير کروړ په شعر کښې هم راغلې ده او د ميار وښان په خير البيان کښې هم موجوده ده نو په دې حساب يې تر لسمي هجری پيړی پورې خپل ادبي عمر ساتلی دی.

د منځنۍ دورې دوهمه برخه د آثار و او کتابونو د ډير ښت او موضوعاتو د رنګينۍ له مخه ډيره مهمه ګڼل کيږی. په دې برخه کښې سربيره پر ديني اثرونو تاريخي، اجتماعي او قصصي کتابونه هم منځ ته راغلي دی په دې برخه کښې د پښتو د نثر په سبك کښې يو لوی تحول پيښ شوی دی او هغه دا چه د پښتو نثر له نيم منظوم او قافيه وال سبك څخه بير ته عادی او روان نثر ته اوښتي دی او داکار د خوشحال خټك له خوا شوی دی. ددې برخي د نثر په ښه والي او سمون کښې د خوشحال کورنۍ هم ډيره لويه برخه اخيستې ده.

په پښتو نثر کښې د خوشحال دستار نامه او بياض، د عبدالقادر

www.esalat.org

ګلدسته او دافضل خان تاریخ مرصع دخټکو د کورنۍ مشهور کتابونه ګڼل کیږي.

ددې دورې یو بل مهم اثر دمحمد هوتک پټه خزانه ده چه د پښتو دادب تاریخ یې ترد وهمې هجرې پیړۍ پورې ور ساوه او یو نوی ورېې پرانیست. دمیر عبدالله احمد شاهی فتاوی دنواب محبت خان ریاض المحبت او دالله یارخان عجایب اللغات دمراد علي تفسیر یسیر او د مولوی احمد ګنج پښتو هم ددې دورې دنثر غوره او قیمتي اثار بلل کیږي.

ددې دورې یو غټ خاصیت دادی چه د پښتو ژبې دزده کړې دپاره پکښې ځینې درسي کتابونه لکه دپیر محمد کاکړ معرفة الا فغاني او نورمیدان ته راوتلی دی.

کله چه خوشال خان دلنډې سین په غاړه، دهوډې غره په لمن کښې دپښتو دپالنې اوروزنې بیرغ پورته کړ او په پښتو ادب کښې یې دملیت او پښتو نوای روح وپو که نوددغې رڼا پلوشې کندهار ته هم ورسیدې، محمد هوتک دپټې خزانې په لیکلو دهوتکو له شاهي دربارنه انعامونه واخیستل او په دې صورت دپښتو دپالنې رسمي دوره په کندهار کښې شروع شوه.

احمد شاه بابا هم دې پلوته پوره توجه لرله مګر زیاتو جګړو او جنګونو ورله دادبي خدمت موقع په لاس ورنه کړه. په دې دوره کښې دپښتو دروزنې انګازې دپیښور او کندهار نه یوشان پورته شوې او دواړو مرکزونو په یو بل باندې خپل اثرونه غورزولي دي.

په دې دوره کښې دپښتو نځوا دځمکې نه دباندې په هند کښې هم دپښتنو نوابانو لکه نواب محبت خان، الله یارخان او نورو خپله ژبه

نه ده هیره کړې اوخپل تاریخ یې ژوندې ساتلی دی .

دد ې دورې په اخر کښې کله چه انګریزانو دکوزې پښتو نخوا خاورې ته راورسیدل نو دوی هم دخپلو غرضونو دپاره دپښتو ژبې دمحدودې ترقۍ دپاره یو څه لاس اوپښې وخوځول او مولوی احمد دپا درې هیوز په سپار ښتنه ګنج پښتو اوداسې نور کتابونه ولیکل .

په دې دوره کښې د پښتو د نثر لمن ډیره پراخه شوه او پښتو ژبې په شاهي دربار کښې هم د پالنې ځای وموند . په دې دوره کښې د پښتو سبک د ښه والي او سمون پر خوا ګامونه واخیستل . لغوی او ګرامری کتابونه پکښې منځ ته راغلل . په دې وخت کښې له پارسې نه په پښتو کښې د ترجمو رواج هم پیدا شوی دی او په دې وجه په پښتو کښې سر بیره د عربۍ په اثر د پارسۍ اثراو اغیز هم راننوتلی دی داوسنۍ دورې نثر د لفظ او معنی دواړو له مخه د ترقۍ په لوری روان شوی او ډیر غوره آثار پکښې لیکل شوی دی . که څه هم د پښتو اصلی ښه تر ډیرې اندازې له ظاهری بدلون څخه خوندې پاتې شوې ده او څو مره تغیرچه په پارسی او نورو ژبو کښې راغلی په پښتو کښې هغو مره نه لیدل کیږی ددې خبرې یو علت د پښتو ژبې دسیمې او تنې پوخوالی دی او بل سبب یې دا دی چه داژبه په غرونو، ناوونو اودرو کښې روزل شوی ده نو ځکه پرې د باندینیو چپاوونو زیات اثر نه دی پریوتی او دمنځنۍ دورې په ادب کښې ډیر اوستاییو اوو یدی لغتونه ژوندی پاتې دی . داوسنۍ دورې په اوله برخه کښې که څه هم کتابونه لږ اولیکو ال دګوتو په شمیر دی، مګر دفکر د بیدارۍ اوویښتیا اودپښتو دمینې پلوشې په دغه وخت کښې په ځلیدو راغلی دی .

www.esalat.org

دپښتو نخواخاورې ته دغربی تمدن رانږدې کیدل اودانګریزانو راتګ په پښتوژبه باندې خپل اثرواچاه، له یوې خوا په پښتوادب کښې ددغه چپاوېه مقابل د پښتونولۍ او تورې جذبې راولړز یدلې اوله بلې خوا په پښتو نثرکښې دعلم رڼانو تله. منشي احمد جان او قاضي میراحمد شاه ددې دورې داولې برخې نومیالې لیکوال اوددې ډګر غښتلي پهلوانان دي. دوی په پښتو نثرکښې دیو نوی لیک ډول اساس کښیښود او پښتو لیکو الی یې د اولس له محاورې سره نږدې او هم غاړې کړه. پښتنی متلونه اوخوږې محاورې یې د پښتو نثر په لمن کښې رانغویستلې اودغربی تمدن اوپوهنې لارې یې کښې پرانیستله. او په پښتو کښې یې دا نګریزی ډ تـر جمو بنیاد کښیښود . منشي احمـد جـان له انګریزۍ نه دافغا نستان د تاریخ لومړی پښتو ترجمه پښتنی دنیا ته وړ اندې کړه اود(هغه دغه، قصه خانی ګپ) په لیکلو یې د پښتو د نثر خوند یو په دوه زیات کړ. دقاضي میراحمدشاه شکرستان او بهارستان هم دنوی نثرتاد وونه پاخه کړل. ددې وخت په کتابونو کښې دابن بتوته دسفر نامې اوتاریخ برامکه ترجمه یقیناً چه یوغوره کارګڼل کیږی په بره پښتو نخواکښې دغه نوې ځلا دامیر شیر علیخان له زمانی څخه ښکاره شوه او دغه وخت ډیرعسکری اصطلا حات، قاعدې او فوځی نو مونه په پښتو واو ښتل لکه غونډمشر، کنډ کمشر، دامیرعبدالرحمن په وخت کښې دهند دوا یسرای( سوال وځواب دولتی )نومی کتاب په پښتو هم چاپ شو.

دامیر حبیب الله خان په زمانه کښې پښتو یو تعلیمی اوسیاسی اهمیت وموند اود پښتو دپاره ځینې درسی کتابونه ولیکل شول. مګر دفکر دپراختیااوکتابونو دزیاتو الی له کبله دوهمه برخه ډیره مهمه ګڼل

www.esalat.org

کیږی. په دې برخه کښې د پښتو ژبې د برتګ لوړی سبب [د افغانستان د خپلواکۍ بیا اخیستل دی. ولې چه له دغه وخت نه وروسته فکر او قلم هم څه ناڅه ازاد شوی او په خپل کاریې پیل کړی دی. نور سببونه یې د زمانې غوښتنې، مدنی اړتیاوې او داسې نور شیان دی په لره پښتونخوا کښې د ادبی نهضت لوی سبب د انګریزانو د استعمار] په مقابل کښې د [اولس بیداری، دازادۍ مجاهدې او دینی جذبه ده. په لره او بره پښتونخوا دواړو کښې د نثر ډیر نوی کتابونه ولیکل شول او ډیر غښتلی لیکوال د پښتو نخوا په هسك وځلیدل .

د موضوعاتو د پر اخۍ له مخه په کوزه پښتونخوا کښې او د ژبې د بنیاد ټینګولو د پاره په بره پښتونخوا کښې ډیر کار شوی دی . د امیر امان الله خان په وخت په کابل کښې پښتو مرکه جوړه شوه د دغې مرکې مشر مولوی عبدالواسع کندهاری ؤ.

دې مرکې (د یو ازینې پښتو او پښتو ښوونه) په نامه دوه کتابونه د چاپ ډګرته راوویستل د اعلیحضرت محمد نادر شاه په وخت کښې د پښتو دژوندانه یو نوی دور شروع شو او د پښتو دلوړتیا د پاره پاخه ګامونه واخیستی شول.

محمد ګل مومند په کندهار کښې د پښتو لوړی ادبی انجمن [جوړ کړ چه دغه انجمن بیا کابل ته راغی او پښتو ټولنه ور څخه جوړه شوه په دې عصر کښې د پښتو ډیر درسی کتابونه ولیکل شول او د [افغانستان په ټولو ښوونځیو او لیسو کښې پښتو د تدریس ژبه وګرځیدله . ډیر پښتو اخبارونه او مجلې میدان ته راووتلې او په دې دول پښتو د یوې ملی ژبې په توګه د رسمیت په چوکاټ کښې ور ننوتله . د دې عصر د نثر په کتابونو کښې د محمد ګل مومند پښتو سیند، د عبد الحی

حبيبي د پښتو ادبياتو تاريخ، د قيام الدين خادم نوي ژوندون، د ګل پاچا الفت پښتو سندرې، ادبي بحثونه، د عبدالرؤف بېنوا خوشحال څه وايي؟ او نور غوره کتابونه او د خوندور نثر مثالونه دي .

په کوزه پښتونخوا کښې هم د نثر پاخه استادان پيدا شول لکه : سيد راحت زاخيلي، ماستر عبدالکريم، اجمل خټک، دوست محمد کامل، امير حمزه شينواري او نور . د کوزې پښتونخوا په نثري کتابونو کښې د قاضي عطاء الله د پښتنو تاريخ، د ماستر عبدالکريم څولۍ ګلونه، د امير حمزه ژوند، د صاحبزاده ادريس پېغله، د روغ ليوني بي بي نوره زيات شهرت لري او د پښتو د نثر غوره کتابونه ورته ويلای شو .

لنډه دا چه په دې سنۍ د وره کښې د پښتو د نثر لمن له هر راز موضوعاتو څخه ډکه شوه او جغرافيه، کيميا، رياضي او نورې پوهنې پکښې رانغو تلې .

ډرامې او ناولونه هم په دې دوره کښې منځ ته راووتل . ګرامري کتابونه، قاموسونه او د ادب تاريخونه هم په دې وخت کښې وليکل شول . له خارجي ژبو څخه زياتې ترجمې هم وشوې .

او د پښتو دزده کړې درسي کتابونه جوړ شول .

د دې وخت يو مهم او غټ کار د پښتو دايرة المعارف خپرول دي لکه چه تر اوسه يې درې ټوکه چاپ شوي دي او د پښتو ژبې يوه لويه علمي پانګه ورته ويلای شو .

په دې وخت کښې د پښتو د نثر د آسانۍ، روانۍ او د ليک د وددسمون او يووالي خواته هم زياته پاملرنه وشوه او پښتو نثر په هر ځای کښې د ليکلو يوه شريکه لاره مونده او په دې ډول پښتو د دنيا په ژوندو ژبو کښې د شامليدو حق پيدا کړ .



له کیڼي خوا : پوهاند رشتین ، ښاغلی شپون او ښاغلی میر حسین شاه

www.esalat.org